DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۶۲

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

بلاخره ولسي جرګې د ۱۳۸۹کال بودیجه تصویب کړه

ولسي جرګې د افغانستان د یوزرو درې سوه نهه اتیایم لمریز کال بودیجه تر کابو دوو میاشتو تودو بحثونو وروسته، د شنبې پر ورځ د رایو په اکثریت تصویب کړه.

له دې مخکې د جرګې غړو ویل، چې په بودیجه کې د ولایتونو ترمنځ د پرمختیایي پروژو انډول په پام کې نه دی نیول شوی، چې څو ځلې یې د مالیې د وزارت له مسوولانو سره پرموضوع بحثونه ترسره کړي او بودیجه یې رد کړې وه.

۳مخ

لسم کال - دویمه دوره، ۷۶۲ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۲۹ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوایي ۵ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۱۱ مه ۲۰۱۰ د اپریل ۲۵ مه

سرنوشت افغانستان در استونیا رقم خورد

تکلیف افغانستان باز هم در کشور دیگری مشخص شد. این‌بار نه در واشنگتن و نه در لندن. این‌بار در تالین پایتخت استونیا؛ وزرای امور خارجه عضو ناتو گرد هم آمدند و در خصوص سرنوشت کشوری تصمیم گیری کردند که فرسنگ‌ها آن طرف‌تر امنیت آنها را زیر سوال برده است. هشت سال از حضور جامعهٔ جهانی در افغانستان می‌گذرد و با این وجود هنوز، اروپایی‌ها در افغانستان سلاخی می‌شوند. بارک اوباما اولویت نخست خود در دستگاه دیپلوماسی را افغانستان اعلام کرده است و این در حالی است که هنوز از پیشرفت در استراتیژی‌های بارک در افغانستان خبری نیست.

این‌بار در استونیا وزرای امور خارجهٔ کشورهای اروپایی ظاهرا آب پاکی را بر دستان افغان‌ها ریخته و برای خروج از افغانستان ضرب الاجل زمانی تعیین کردند. دقیقا همان استراتیژی که اوباما ابتدا در عراق و پس از آن در افغانستان پیاده کرد. وزیران امور خارجهٔ ناتو در این نشست خود طرحی را برای شروع انتقال مسوولیت‌های امنیتی و حکمرانی در افغانستان، از سوی امریکا و دیگر قدرت‌ها به مقام‌های ولایتی این کشور تا ماه نومبر امضا کردند.

آندرس فوگ راسموسن، منشی عمومی ناتو در این نشست گفت: ما بر سر مسألهٔ انتقال مسوولیت‌ها توافق کردیم. هم اکنون افغان‌ها در کابل مسوولیت‌های امنیتی را برعهده گرفته‌اند. از امروز ما نقشه راهی داریم که ما را به واگذاری امور به افغان‌ها که از امسال شروع می‌شود، رهنمون می‌کند و در این مورد افکار عمومی ما شاهد پیشرفتی خواهد بود که به درستی خواستارش بوده است.

منشی عمومی ناتو ابراز امیدواری کرد که دولت افغانستان و جامعهٔ

ص۴

دختران در بلخ، به مدرسه می روند

دختران در ولایت بلخ می خواهند مانند پسران برای شان مدارس دینی و دارالحفاظ ها ایجاد شود، تا آنان بتوانند، نسل جوان افغان را با ارشادات دینی و مذهبی آشنا سازد.

به عقیدهٔ آنان، مادران نسبت به پدران در تعلیم و تربیهٔ اطفال در خانواده نقش مهم دارد؛ پس بادرنظرداشت همین اصل آنان باید با مسایل دینی و مذهبی آشنایی داشته تا بتوانند، نسل آینده را بهتر تربیه نمایند.

آنان این خواست ها را دیروز در پایان نشستی بیان داشتند که به مناسبت دستار بندی بیش از ده تن از جوانان این ولایت به راه انداخته شده بود.

فرشته یک تن از متعلمان در این زمینه می گوید: "دخترانی هستند که در آینده مادر می شوند و مادر مسلمان باید از تمامی مسایل دینی آگاهی کامل داشته باشند؛ به همین اساس، در کنار مردان باید برای دختران نیز، مدارس دینی ساخته شود."

ص۳

۲۰میلیونه افغانان د ملاریا ناروغۍ له ګوابښ سره مخ دي

دافغانستان د عامې روغتیا سرپرستې وزیرې ثریا دلیل د شنبې پر ورځ په کابل کې، د ملاریا د نړیوالې ورځې د لمانځنې په غونډه کې خبریالانو ته وویل، چې د هېواد د دوه ویشتو ولایتونو په لړې پرتو اته دیرش ولسوالیو کې به تر ۱۴۰۰۰۰ زیات کوچنیان د ناروغیو په وړاندې واکسین کړي: "د ملاریا ناروغي نن په افغانستان کې یوه لویه روغتیایې ستونزه ده، شا او خوا شل میلیونه خلک د ملاریا ناروغۍ تر ګوابښ لاندې دي. د واکسین ملي اونۍ به د اپریل له څلور ویشتمې څخه تر دیرشمې پورې، په افغانستان او د مدیترانې د ختیځې حوزې په یوویشتو هېوادونو کې روانه وي. د ۱۴۰۰۰۰ زرو څخه ډېر هغه کوچنیان، چې عمرونه یې تر دوو کلونو لږ دي، په اته دیرشو ولسوالیو او دوویشتو ولایتونو کې به واکسین شي." اغلې دلیل وویل، چې تېر کال په افغانستان کې له ۳۹۰۰۰۰ څخه ډېر کسان د ملاریا پر ناروغۍ اخته وو. د عامې روغتیا وزارت چارواکي وایي، د افغانستان ۱۴ ولایتونه اوس هم د ملاریا ناروغۍ

۳مخ

پر ولسمشر به د فشارونو لړۍ دوام ولري

هیرالډ تریبیون امریکایي ورځپاڼې امریکا ته د ولسمشر کرزي د راتلونکې میاشتې د سفر او له هغه څخه د امریکایي چارواکو د احتمالي غوښتنو په باب په یوه مقاله کې پر دې ټینګار کړی، چې له افغانستان سره نړیوالې مرستې دې د نړیوالو مالي اداروالو همداراز ملګرملتو له لوري وڅارل شي.

د دې ورځپاڼې په نظر که د افغانستان په حکومتي چارو کې د نړیوالو موسسو رول زیات شي، په دې هېواد کې به د فساد له کمېدو او حکومتي خدماتو له ښه کېدو سره مرسته وشي.

هیرالډ تریبیون ورځپاڼې د افغان ولسمشر حامد کرزي پر کارونو اود ده په وروستیو امریکا ضد څرګندونو مایوسي په ترڅ کې هغه بې باوره متحد بللی دی. خو په عین حال کې یې لیکلي چې کرزی د افغانستان ولسمشر دی او د طالبانو د ماتولو لپاره د امریکا هر راز هیله د ده له همکاری پرته پوره کېدای نه شي.

د امریکا ولسمشر به راتلونکې میاشت

۳مخ

د جرمني دفاع وزیر:

د کندوز بریدیوه تېروتنه وه

د جرمني د دفاع وزیر کارل تیودور ګوتنبرګ وړمه ورځ ومنله، چې تېر کال د جرمني ځواکونو په امر هوایي برید، چې د ګڼو ملکیانو په ګډون ځینې کسان په کې ووژل شول، د ده یوه تېروتنه وه. د جرمني خبري اژانس په دې اړه یو مطلب لري، چې لنډیز یې داسې دی: د جرمني د دفاع وزیر د پارلماني تحقیقاتو لپاره یو کلیدي شاهد و، تېر کال پر دوو ټانکرونو، چې په کندوز کې طالبانو تښتولي وو، د جرمني ځواکونو د بمباری په نتیجه کې ۱۴۲ کسان ووژل شول یا هم ټپیان شول. ګوتنبرګ وویل، د دې برید په اړه یې غلط قضاوت کړی و او هغه وخت یې دا یو مناسب پوځي اقدام

۳مخ

جنرال پترایوس در گفتگو با پی. بی. اس:

در استفاده از لفظ " موفقیت واقعی " در افغانستان محتاط هستم

تندروان پاکستانی برای مقابله با دولت، غیرنظامیان را می‌کشند

قوماندان اردوی امریکا در جنگ‌های افغانستان و عراق گفت: افراطیان در پاکستان برای مقابله با مبارزه موفقیت آمیز دولت پاکستان برای ریشه‌کن کردن آنها، کشتار غیرنظامیان بی‌گناه را پیش گرفته‌اند.

جنرال دیوید پترایوس، قوماندان نیروهای امریکایی در شرق میانه و آسیای میانه در مصاحبه با شبکهٔ خبری پی. بی. اس همچنین گفت که اگرچه وی در توصیف دستاوردهای نظامی امریکا در افغانستان به عنوان یک موفقیت واقعی محتاط است، ولی در پاکستان فعالیت تحت امر دولت این کشور علیه مخالفان یک پیشرفت قابل توجه نشان داده است.

وی افزود: من در مورد توصیف موفقیت در افغانستان و استفاده از لفظ "موفقیت واقعی" در مورد این کشور محتاط هستم.

پترایوس گفت: اما در پاکستان مطمینا یک پیشرفت قابل توجه توسط اردوی پاکستان و نیروهای مرزی علیه طالبان پاکستان حاصل شده است.

ص۳

آیا ربښتیا هم مور له هېواد سره مینه لرو؟

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

انتخابات پارلمانی وعدم شور مردم

ثبت نام کاندیدان دور دوم انتخابات پارلمانی سر از ۳۱ حمل آغاز شد، اما این بار برای برگزاری انتخابات پارلمانی هیچ شور و شوقی از سوی مردم دیده نمی شود و با توجه با برگزاری انتخابات ریاست جمهوری و تقلب های گسترده یی که هم از سوی خارجی ها و هم داخلی ها در آن صورت گرفت و نیز، در انتخابات پارلمانی بار اول طیف وسیعی از جنگسالاران و ناقضان حقوق بشر به این پارلمان راه یافتند و بعد منشور عفو خود را به تصویب رساندند و به این گونه مردم افغانستان از چنین پارلمان و چنین تصاویبی سخت آزرده شدند؛ لذا فکر می کنند که پارلمان جدید هم چیز بهتری از پارلمان گذشته نخواهد بود و به این خاطر، در هیچ کوی و کوچه یی در این مورد، میان مردم بحث و اظهار نظری وجود ندارد و گویی که این کار اصلا به آنان ارتباط ندارد.

پارلمان گذشته با اینکه افراد بسیاری از زورمداران و جنگسالاران سه دوره را در خود داشت و هر روز میان آنان در صحن پارلمان بوتل بازی، درگیری، جدال و کشمکش دیده می شد و اکثر آنان به روی منافع شخصی خود چانه می زدند و نیز هر روز کرسی های پارلمان خالی بود و بسیاری از این وکلا برای کمیشن کاری به دفترهای وزرا رفته و از آنان امتیازات خاصی می گرفتند و هیأت رهبری پارلمان از پوره نشدن نصاب شکایت داشت، لذا پارلمان گذشته در نظر مردم یک پارلمان ناکاره و پر از جدل و کشمکش بود که این کشمکش ها نه به خاطر دفاع از حق مردم، بلکه به خاطر منافع شخصی و گروهی خود وکلا به راه می افتاد.

با چنین تجاربی که از پارلمان گذشته به جا مانده و چیزهایی در اذهان مردم سبز شده، سوال این جاست که آیا بار دیگر این افراد به پارلمان راه خواهند یافت و آیا بازهم برخی از مقدرات مردم افغانستان در چنگ اینان قرار خواهد گرفت؟ با توجه به وضعیت عمومی زورمداری و باجدهی که در افغانستان حاکم است و با استفاده از بیسوادی مردم افغانستان، بخشی از تحلیگران به این باور اند که تعدادی از این افراد، با همان ابزار و وسایلی که در بار اول به پارلمان راه یافتند، این بار نیز، همان وسایل و ابزار را به کار گرفته به پارلمان می آیند و مگر که خارجی ها در خفا با کاندیدی برخی از این وکلا مخالفت کنند و یا به آنان اخطار کنند که خود را کاندید ننمایند، اما از جایی که تجربهٔ کار نیروهای خارجی در افغانستان نشان می دهد، آنان خواهان یک حکومت ضعیف و پارلمان ضعیف تر در افغانستان اند و به این خاطر، برخی به این باور اند که تعدادی از وکلای کنونی باز هم از سوی خارجی ها تشویق خواهند شد که خود را کاندید کنند و حتا شاید که مصارف آنان نیز، از این طریق پرداخته شود. با اینکه زورمداران با زور، تفنگ و پول رای مردم را خواهند قابید، به وسایلی چون قوم، قبیله، سمت، زبان و تنظیم نیز، توسل خواهند جست و با این وسایل، رای مردم را به خود اختصاص خواهند داد، بگذریم از اینکه وسیلهٔ مهم تقلب و تقلب چیان را نیز، در اختیار خواهند داشت و به این گونه بار دیگر وارد پارلمان خواهند گشت.

با اینکه روزانه از جدل های کمیسیون انتخابات و چگونگی ساختار آن میان رییس جمهور و خارجی ها در رسانه ها انتشار می یابد و مردم با خاموشی آن را دنبال می کنند، اما مثل چند سال قبل در سیمای مردم کوچهٔ و بازار نه شوری از این انتخابات دیده می شود و نه علاقه مندی نزد آنان به چشم می خورد و نه در راه و نیمه راه صحبتی در این مورد نزد شان وجود دارد و همه به یک صدا می گویند که این پارلمان ها به درد مردم نمی خورند، وکیلان برای خود کار می کنند، معاش های بلند و موترهای لوکس می گیرند، برای تقسیم دشت پدوله دندان خایی می کنند و شغل شریف کمیشن کاری را به پیش می برند. پس چنین پارلمانی چه درد مردم را دوا کرده می تواند و گذشته اش چه کرد که آینده اش کاری برای مردم انجام دهد.

با تمام این عدم شور و شوق و مورد تایید نبودن این پارلمان از تجارب گذشته در چنین مواردی می توان دریافت که بازهم در روز برگزاری انتخابات، عده یی به پای صندوق های رای خواهند رفت و مطمینا که در پارلمان جدید عده یی از افراد جدید نیز، شرکت خواهند کرد. اما تلاش برای اینکه هر جناح افراد بیشتری در این پارلمان داشته باشد شروع شده و به این خاطر، کرزی در این انتخابات با حساسیت خاصی برخورد می کند.

آیا ربستیا هم مور له هیواد سره مینه لرو؟

رشاداحمدزی

دې جوګه وي، چې پرته له کوم اجتماعي خندې څخه د خپل ژوند ورځنۍ چارې په سمه توګه سمبال او پر مخ بوځي، خو که د دې پرخلاف هره خوا کنډواله وي، ورانې وي او د ژوند اسانتیاوې نه وي برابرې، نو په هغه صورت کې خلک له ډول ډول رواني او د ماغي ستونزو سره لاس او ګریوان وي او نه شي کولای خپل ژوندهغه شان پر مخ بوځي چې د یوې ټولنې جوړښت یې غوښتنه کوي.

افغانستان زمور د ټولو افغانانو ګډ کور دی، مور ټول په خوله وایو، چې دغه ګډ او شریک وطن رابانديې ګران دی او مور ټول ناړې وهو، چې د دې تاریخي وطن له لوښتې لوښتې سره بې کچه مینه لرو، خو دهغه په آبادۍ، سمسورتیا او ښېرازۍ کې ونډه نه اخلو او دې ته مو ستر ګې نیولي دي، چې د نورو هیوادونو خلک راشي او دغه کنډواله وطن راته وران، سمسور او ښېراز کړي، خو دې ته مو پام نه دی چې د نړۍ پر مخ نور پرمختللي هیوادونه چاودان کړي دي او چا دې حد ته رسولي دي، که مور د نورو پرمختللو هیوادونو د تېرو تاریخونو پاڼې را واړوو، نو دا به راته ثابته شي چې دغه هر یو پرمختللی هیواد په لومړي سر کې داشان ودان او سمسور نه و، بلکې زمور له هیواد څخه هم د وروسته پاتې هیوادونو په جمله کې شمېرل کېدل، خو خلکو یې بډې راووهلې، پا یځې یې راپورته کړې او خولې یې وبهولې، خو خپل هیواد یې د ترقۍ او پرمختګ لوړ و مدارجوته ورساوه او اوس هم لګیا دي د لا نور پرمختګ او ترقۍ لپاره خولې بهوي او مخ په وړاندې روان دي.

د نړۍ د نورو پر مختللو هیوادونو خلک هم زمور په شان انسانان دي، هم ته نه وای پرېښې.

حضرت ابراهیم ع هم مکې معظمې ته دعاکوي فرمایي: ای ربه دا د امن ښار وګرځوه او اوسېدونکو ته یې پرېمانه روزي ورکړه.

دادواړه ببلګې د دې ښه ثبوت دی، چې اسلام له خپل ټاټوبي سره مینه حرامه نه، بلکې ضرور بولي.

زمور ګران افغانستان هم حق لري، چې مینه ورسره وشي، در ناوی یې وشي او خدمت یې وشي.

که هیواد اباد او پرمختللی وي، نو مور به هم هوسا او سوکاله واوسو اوسرونه به مو په نړۍ کې هسک وي او که مو هیواد داوس په څېر وران او کنډر وي، نو سرونه به مو تیټ او ګېډي به مو ورې وي، پردیو هیوادوته به دخواری او مزدورۍ لپاره څو، هلته په خلک راباندې ملنډې هم وهي، د مریي په څېر به راته ګوري او هغه ترټولو سخت او شاقه کارونه به پر مور کوي.

که زمور هیواد سمسور او اباد وای نو نن به دومره درپه دره نه وو، زمور د هیواد آبادي، ښېرازي او سمسورول هم افغاني هوډ او له خپل هیواد سره بې کچه مینه غواړي، که وطن آباد وي، سمسور وي او په هر اړخیزه توګه ښېراز وي، نو د هیوادوالو ژوند به ارام، سوکال او ډاډمن وي او هر هیوادوال به د هغوی هم ستړي کېږي او هغوی هم استراحت او ارام ژوند ته اړتیا لري، خو هغوی ارامي او سوکالي د خپلو هیوادونو په آبادۍ اوښېرازۍ کې لټوي، هغوی وایي چې مور د ې ستړي یو، خو وطن مو د ې ارام وي، مور د ې په نیمه ګډه ډوډۍ ولرو، خو وطن مو د ې مور وي او مور د ې د ژوند ډېر لږ امکانات ولرو، خو وطن مو د ې له زیاتو امکاناتو څخه برخمن وي، خو مور وایو چې زه د ې مورېم، که وطن مې وړی وي خیر دی، زه د ې د شتو خاوند وم، وطن مې که بل ته د سوال لاس نیولی وي څه پروا یې نه شته او زه د ې آرام یم، که پر وطن مې د ګولیو باران ورېږي او په هر کونج کې ناارامي خپل تغر غوړولی وي، زما ورسره کار نه شته، نو چې دغه شان حالت روان وي او دو طن هر غړی نفسي نفسي ناړې ووهي د ې ته به څوک له وطن سره مینه ووایي او وطن به مو څه ډول له نورو هیوادونو سره د سیالۍ جوګه شي او د پرمختللو هیوادونو په لیکه کې به وشمېرل شي.

کاشکې مور له خپل وطن او له خپلو خلکو سره مینه پر هغو بنسټونو عیاره کړو، چې د نورې نړۍ خلک پرې تللي دي، کاشکې مور ټول هیوادوال د زړه له کومې دا ووایو چې وطن مې د ې آبادوي، وطن مې د ې آرام وي او وطن مې ټول لازم امکانات ولري، نو که زما شخصي ژوند له څه نا څه مشکلاتو سره هم مل وي دا دومره مهمه نه ده، بلکې مهمه دا ده چې زه د یوه ارام، سوکال او آباد وطن په غېږ کې له هر ډول وېرې او ستونزې پرته ژوند وکړم او بیا د د ې عالي احساس په رڼا کې ټول په شریکه په د ې راپورته کړو او خولې وبهوو د وطن آبادۍ ته داسې مټ ورکړو، چې په واقعي توګه له وطن سره زمور د مینې ثبوت وښیي او په د ې توګه زمور هغه ادعا په ثبوت ورسېرۍ چې له وطن سره د مینې په اړه یې کوو.

وایي چې ((بې زحمته راحت نه شته)) او دا یو واقعیت دی، کله چې څوک زحمت وباسي، خولې وبهوي او څه موده ارام ژوند ته

۳مخ

هېر شوي کلي او لوی شوي ښارونه

جمال ناصر

د ملګرو ملتونو له احصایې سره سم، په دوه زره اووم میلادي کال کې د نړۍ په تاریخ کې په اول ځل تر نیم زیات خلک ښار مېشتي شول. له اټکلونو سره سم په ښارونو کې د اوسېدونکو خلکو تعداد کال په کال زیاتېږي. دا یوه طبیعي پدیده ده، چې له انکشاف او په تېره بیا صنعتي انکشاف سره تعلق لري. مانا دا چې اقتصادي او تولیدي مراکز ورځ په ورځ په ښارونو کې زیاتېږي او خلک د روزي پیدا کولو لپاره ښارونو ته لېږدي.

له کلیو څخه ښارونو ته د خلکو لېږد ته اربنایزېشن وایي. اربنایزېشن که د دنیا په نورو هیوادونو کې طبیعي پدیده وي، په افغانستان کې غیر طبیعي ښکاري او غور وربانديې پکار دی.

ویل کېږي چې د دوه زره دویم کال په اوایلو کې د کابل نفوس یو میلیون و، خو اوس ویل کېږي چې په کابل کې څلور میلیونه کسان اوسي. د افغانستان نورو ښارونو لکه هرات، جلال اباد، خوست او مزارشریف هم په تېرو اتو، نهو کلونو کې په چټکۍ سره وده کړې او نفوس یې څو برابره شوی دی. دلته چې صنعت وده نه ده کړې، نو ولې ښارونو ته خلک په دومره لویه پیمانه رامات دي؟ زما په نظر مور باید دې سوال ته او په افغانستان کې د اربنایزېشن په نورو سوالونو ته ځوابونه پیدا کړو. په افغانستان کې د ښارونو د نفوس د بې کنټروله او بې سرو بره زیاتوالي څلور عوامله مهم ښکاري:

یو عامل دا دی چې د هجرت په وخت کې افغان کلیوالو په ښارونو یا لویو کمپونو کې ژوند وکړ او نور نو ورته سخته وه چې په کلیو کې واوسي.

بله عامل دا و چې په تېرو څو کلونو کې د هر خدمات او د هر امکانات ښارونو ته ورکړل شول او کلي تر د هره حده هېر شول. څرنګه چې رسنۍ هم په ښارونو کې متمرکزې دي، نو د کلیوالو اواز چندان نه اورېدل کېږي.

درېیم عامل دا بللی شو، چې په کلیو او ولسوالیو کې حکومت داري کمزورې ده. په کلیو او ولسوالیو باندې معمولا داسې مامورین حکومت کوي چې له خلکو سره یې رویه بده ده.

څلورم عامل دا دی چې په کلیو کې اقتصادي فشارونه او کمزورې حکومتداری یو بل ته لاسونه ورکړي او هغو کسانو ته یې شرایط برابر کړي دي، چې ناامني غواړي. د ناامنۍ په حالت کې هغه کسان چې وس لري، هغوی ښارونو ته کډه کېږي او په مقابل کې کلی نور هم له سرمایې خالي کېږي.

دغو عواملو په افغانستان کې غیر طبیعي اربنایزېشن ایجاد کړی، چې نه یوازې یې کلیوال ژوند ته مشکلات پیدا کړي، بلکې

۳مخ

هېر شوي کلي او لوی شوي ...

ښارونه يې هم له جدي خطر سره مخ کړي دي.
همدا اوس زمونږ لوی ښارونه طبيعي اقتصاد نه لري او خلک د هغو موسسو په مستقيمو او غير مستقيمو مرستو چلېږي، چې هره شېبه يې د بس کېدو وېره ده. کابل کې څلور ميليونه نفوس اوسي، خو کابل توليدات نه لري. دا يو غير طبيعي حالت دی چې هره شېبه په خطر بدلېدلای شي.
له بلې خوا د ښارونو بې کنټروله پراختيا د چاپيريال د ککړوالي او د تعليمي، صحي او امنيتي خدماتو د اختلال زمينه مساعده کړې ده.
مونږ چې ارقام او احصاييه نه لرو، نو د خپلو مشکلاتو په پېژندلو او جدي ګڼلو کې معمولا پاتې راځو. کابل همدا اوس د دنيا په يو خورا چټلو ښارونو کې حساب دی. دې ناولتيا بې حده روغتيايي ستونزې زېرولي، چې نه يوازې په ميليونونو ډالره هر کال د هوا او چاپېريال د خرابوالي په علت راپيدا شويو ناروغيو باندې لګوو، بلکې په ميليونو ساعته کاري وختونه مو هم ضايع کېږي.
افغانستان زراعتي هېواد دی او بيا به هم تر ډېره حده زراعتي هېواد وي، ځکه مونږ په صنعت کې تر راتلونکو لسګونو کلونو پورې له خپلو ګاونډيو سره سيالي نه شو کولای، نو چې واقعيت داسې دی ولې د خپلو کليو اقتصاد ته لا زياته توجه نه کوو.
که څه هم په تېرو دوو کلونو کې او په تېره بيا د زراعت د نوي وزير په راتلو سره زراعتي سکتور ته توجه يو څه زياته شوې ده، خو څرنګه چې د افغانستان اکثره خلک په کليو کې اوسي او کلی زمونږ د اقتصاد اصلي شاتېر دی او درېيم دا چې د افغانستان تر ټولو ډېر بېوزلي خلک کليوال دي، نو پکار ده چې کليو ته توجه په مراتبو زياته کړو.
د کليوال ژوند بهتري او د بې کنټروله اربنايز ښن مخنيوی زمونږ د ملک د ثبات او روښانه راتلونکې لپاره حياتي اهميت لري. په کليو او ولسوالیو کې د ژوند د بهترۍ لپاره بايد اقتصادي انکشاف او ښه حکومت داري يو بل ته لاسونه ورکړي څو په دې ډول هم د بېځايه اربنايز ښن مخه ونيول شي، هم افغانستان په اقتصادي لحاظ پخپلو پښو ودرېږي او هم په کليوالو سيمو کې د امنيت د خرابوالي عاملينو ته خای پاتې نه شي.

پر ولسمشر به د فشارونو لړی ...

واشنګټن ته د ولسمشر کرزي په سفر کې له هغه د لا زياتو اقداماتو غوښتنه وکړې.
د هيرالډ تريبيون له مخې کرزي ته به د واشنګټن بلنه هسې يوه مېلمستيا نه وي، بلکې په دې سفر کې به پر هغه انتقادونه هم وشي، ځکه چې د بارک اوباما حکومت غواړي چې پر ده فشار جاري وساتي، څو له خپل حکومته فاسد مقامات او هغه عناصر لرې کړي، چې په ميليونونو افغانان يې له خپل حکومته خوابدي کړي دي.
ورځپاڼه په خلکو کې د ولسمشر کرزي د حکومت د منزوي کېدو او د طالبانو د قوي کېدو د يادونې تر ځنګ ليکلي، چې ولسمشر بارک اوباما ته پکار ده، چې په افغانستان کې دويمه جبهه پرانيزي چې حساسيت يې لږ دی او هغه د فساد پرضد مبارزه ده. دی بايد پر کرزي فشار راولي چې له ملګرملتو وغواړي، چې د افغانستان د اقتصادي پراختيا چارې او په دې هېواد کې د پيسو مصرف وڅاري.
د ورځپاڼې په نظر ملګري ملتونه د افغانستان د سياسي اداره له پياوړتيا او د انتخاباتو له ځانګې سره مرسته کولای او دا يقيني کولای شي، چې مرستې محتاجو اوړو کسانو ته ورسېږي.
د تاند وېبپاڼې د راپور له مخې، د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک او اسيايي بانک له افغانستان سره د نړيوالو ميليارډونو ډالره مرستې ښه ځارلی او تنظيمولی شي.
دې موسسو تر ۲۰۰۵ پورې، چې ملګرملتو په غيرمعقولو دلايلو د هغوی لاس لنډ کړ، دا کار په ښه توګه ترسره کړ.
بله ستونزه د مالیو او عوايدو د ترلاسه کولو ده، چې که دا کار په سم ډول تنظيم شي د افغانستان د حکومت له خدماتو سره مرسته کولای شي، خو اوس دا عوايد ډېر د فاسدو مقاماتو له لوری خوړل کېږي.
د هيرالد تريبيون په وينا نړيوال بانک، چې د کرزي له حکومت سره يې په پرمختيايي پروژو کې همکاري کړې ده، د عامه خدماتو مصارف او د مامورينو معاشونه په ښه ډول ځارلای شي.
د ورځپاڼې په نظر نړيوالو موسسو د رول له پياوړتيا سره مرستندويان زياتو مرستو ته تشويق کېږي او هغوی کولای شي، چې له افغانستان سره د تخنيکي ماهرانو په برخه کې هم مرسته وکړي، چې افغانستان د دې جوګه کړي چې له خپلو منابعو ځځه کار واخلي.
ورځپاڼه ليکي: که فساد لږ شي، اقتصاد ښه تنظيم شي او نړيوالې هلې ځلې زياتې متمرکزې شي، افغانستان به چې اوس د نړۍ يو تر ټولو بېوزله هېواد دی، فقير پاته نه شي، بلکې دا هېواد به د دې جوګه شي، چې د حکومت مالي پېټی او د پرمختيايي چارو مصارف په خپلو اوږو واخلي.

د کندهار ښوونيز بهير له ګنډ ستونزو ...

ترڅو له دې لارې هغوی تشويق شي او د ولسوالیو په ښوونځيو کې د تدريس چارې پرمخ يوسي.
د کندهار د پوهنې رييس په تېر ۱۳۸۸ کال کې د پوهنې په برخه کې د يو شمېر پرمختګونو يادونه هم وکړه او ويې ويل، چې له دې ولايت ځځه ۲۸ د دوولسم ټولګي فارغان پاکستان، ۱۵ هندوستان، ۱۶ ترکيې او ۱۱ تنه د هوانوردۍ انسټيټوټ ته د لوړو زده کړو لپاره لېږل شوي دي.
ده زياته کړه، چې په دې کال کې په کندهار کې د کاناډا هېواد د پرمختيايي اداړې يا CIDA او UNICEF اداړو په مرسته د سواد د زده کړو ۲۰۰ مرکزونه هم جوړ شوي. چې ګڼو مېرمنو په کې زده کړې تر لاسه کړې دي.
د هغه په خبره، د يادو شويو اداړو په مرسته د ۲۰۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت ۳۷ بابه ښوونځي ترميم شوي. د ۵۰۰ زره ډالرو په لګښت د ۱۳ ښوونځيو لپاره احاطې جوړې شوې او د ۲۹ ميليونو افغانيو په لګښت د ۱۱ بابه نويو ښوونځيو د بيارغولو چارې روانې دي.
چې د روان کال تر وړې مياشتې پورې به ښپړې شي.
نومورې، په روان ۱۳۸۹ کال کې د پوهنې رياست د يو شمېر پلانونو يادونه هم وکړه او ويې ويل، چې د ۸۰ بابه ښوونځيو لپاره به نوې ودانۍ جوړوي.
ده وويل، چې د کاناډا هېواد د پرمختيايي اداړې (CIDA) په مرسته د کندهار د ميخانيکي ښوونځي د رغونې چارې هم روانې دي، چې د ۳،۵ ميليونو ډالرو په لګښت به د همدې کال تر پايه بشپړې شي.
هغه دغه راز وويل، چې په روان کال کې به د امريکا د نړيوالې پرمختيايي اداړې (USAID) له خوا د ۳۰۰ زره امريکايي ډالرو په لګښت د کندهار په ګڼو ښوونځيو کې د کيميا، فزيک، بيالوژي او نورو مضامينو لابراتوارونه جوړ شي او د دې تر ځنګ به په ټولو ښوونځيو کې د زده کوونکو لپاره د سپورټ لوبغالي هم برابر شي.
د پوهنې د رييس په وينا، په روان کال کې به هڅه وکړي چې د کندهار ښار او ولسوالیو ټولو ښوونځيو ته درسي کتابونه ورسوي او د اړتيا پر مهال مسلکي ښوونکي جذب کړي.
نومورې، د دې تر ځنګ د کندهار ښار د زرغونې انا او ميرويس نيکه په لېسو کې د CIDA اداړې په مالي مرسته ډ يوه لوی کمپيوټر لېب د جوړېدو خبر هم ورکړ او ويې ويل، چې د ۲۰۰ کمپيوټرونو په لړلو سره به له انټرنيټ سره هم ترلی وي.
د هغه په وينا، په ژېړې او پنجوايي کې د ښوونځيو بېرته پرانيستل، په ډنډ او سپين بولدک ولسوالیو کې د يوه يوه دارالمعلمين جوړول هم د هغوی د نوي کال په پلان کې شامل دي.
احمدي، ښوونکو ته د ځمکو د وېش په اړه ووېل، چې د هغوی لپاره دوې سيمې کوتل مورچه او ملنګ کاږه سيمې ټاکل شوي، چې پر ۱۰۰ ښوونکو يوه يوه نمره ځمکه وېشل شوې او پاتې نور چې د تخنيکي ستونزو له امله يې کار له خندې سره مخ و، په نوي کال کې ووېشل شي.
هغه په دې کال کې د يونيسيف اداړې له لوري د ۲۸۰۰ ښوونکو او د برک موسسې له لوري د ۱۳۰۰ ښوونکو د روزنې خبره هم وکړه او ويې ويل، چې د يادو شويو اداړو په مرسته به ښوونکو ته ميتوديک او روزنيز ورکشاپونه او سيمينارونه جوړوي.
له بلې خوا د دې ولايت زده کوونکي د نويو ښوونځيو د جوړېدو پر ځای د شته ښوونځيو د پياوړتيا او معياري کېدو او د ښوونکو د مسلکيتوب غوښتنه کوي.
د کندهار ښار د ظاهر شاهي لېسې د لسم ټولګي زده کوونکي فريد احمد پژواک اژانس ته وويل، چې که چېرته مسلکي ښوونکي نه وي، نو د نويو ښوونځيو پرانيستل څه مانا لري؟
هغه زياته کړه په ګڼو لېسو کې د ساينسي مضامينو ښوونکي نه شته، چې درس ورکړي او زده کوونکي په مياشتو مياشتو ببله ښوونکي ځځه ناست وي او قېمتي وخت يې ضايع کېږي.
نومورې له اړوندو چارواکيو ځځه هيله کوي، هغه لګښت چې د نويو ښوونځيو پر ودانيو کېږي، په کار ده د زده کړې د بهير پر معياري کېدو او د ښوونکو پر مسلکي زده کړو وشي.
دی وايي، ګڼ زده کوونکي چې له دوولسم ټولګي ځځه فارغېږي، د همدې ستونزې له املې يې سالمي زده کړې نه دي تر لاسه کړي، چې د کانکور د ازموينو پر مهال پاتې راځي او په دې توګه ناهيلي کېږي.
کندهار د هېواد له نا ارامه ولايتونو ځځه ګڼل کېږي، چې د ګڼو نورو ستونزو تر ځنګ د ښوونې او روزنې په برخه کې هم له ګڼو ستونزو سره لاس او ګرېوان دی.
په دې ولايت کې د ناامنيو له املې ۱۴۸ ښوونځي تړل شوي او د شته ښوونځيو حالت هم سم نه دی.
دا مهال د ټول کندهار په کچه ځه له پاسه ۱۲۰ زره زده کوونکي په زده کړو بوخت دي، چې شاوخوا ۳۱ زره يې نجونې او پاتې ځه له پاسه ۸۹ زره يې هلکان دي.

۲۰ميليونه افغانان د ملاريا ناروغۍ ...

له جدي ګوابنې سره مخ دي، چې په دغو ولايتونو کې د جنوب نارامه ولايتونه هلمند او کندهار هم شامل دي.
هغه وايي سږ کال به د هېواد هغه ټولې سيمې هم د ملاريا، ګوزن او نورو ناروغيو د مخنيوي تر پروګرام لاندې ونيسي، چې په تېر وخت کې ورته سم لاسرسی نه کېده، خو په افغانستان کې د روغتيا د نړيوالې ټولنې استازي وايي، چې د دوی په سيمه کې روغتيايي مرکزونه نه شته. که وي پاملرنه نه ورته کېږي او د دوی کوچنيان نه واکسين کېږي، ناروغان به يې لرو روغتونونو ته وړل کېږي او يا هم ژوند له لاسه ورکوي.

د کندوز بريد يوه تېروتنه ...

ګڼلی و، نومورې د خپل دې ناسم قضاوت مسوولیت ومانه. يوه مياشت وروسته د جرمني د دفاع وزير له خپل دې قضاوت معکوس نظر خپل کړ، خپل نژدې سلاکاران يې تورن کړل چې د دې بريد په اړه يې هماغه وخت، مهم اسناد او معلومات نه وو ورسره شريک کړي. د تحقيقاتو په جريان کې ګونټبرګ ووېل، ما تر خپله وسه هڅه کوله او غوښتنه مې داوه، چې د خپلو معلوماتو تر بشپړولو او يقيني کولو وروسته پربکړه وکړم. ګوتنبرګ دا رد کړه، چې ده ګواکې د جرمني لوی درستيز ولف ګانګ شنايدرهان او د دفاعي چارو مرستيال پيټر ويښرت چې دواړه له دندې ګوښه شوي، د نومورې د اشتباه قرباني شوي.
د دې هوايي حملې په وخت کې فرانک يوزوف ينګ د جرمني د دفاع وزير و، کله چې د جرمني خلکو ته د دې حملې په اړه معلومات ورسېدل، پر نومورې هم فشارونه راوستل شول، چې له خپلې دندې استعفا وکړي. ګوتنبرګ ووېل، دا ښکاره خبره ده، چې د کندوز دغه حمله بايد نه وای شوې. د روانې اونۍ په پيل کې د دې حملې له قوماندان ډګروال جورج کلين، څخه هم تحقيقات وشول، په نتيجه کې نومورې ملامت ونه ګڼل شو.
د جرمني د دفاع وزير ګوتنبرګ دا ځرګندونې په داسې حال کې کوي، چې تر دې مخکې د جرمني صدراعظمې انګېلا ميرکل هم پارلمان ته، په افغانستان کې د جرمني خواکونو حضور ته پام سره ووېل، چې په دې هېواد کې د تروريزم هغه خطر اوس هم موجود دی، چې سيمې ته يې ګوانې متوجه کړې.
د ازادي راډيو د راپور له مخې، په دې وروستيو اونيو کې د وسلوالو په دوو حملو کې د دوو جرمني عسکرو د وژل کېدو راپور ورکړل شو، په دې توګه له ۲۰۰۱م کال راهيسې په افغانستان کې د وژل شويو جرمني عسکرو شمېر ۴۳ ته زيات شو.

بلاخره ولسي جرګې د ۱۳۸۹کال بودیجه ...

د ولسي جرګې رييس محمديونس قانوني د غونډې په پای کې ووېل، دا خل د مالیې وزارت د جرګې د غړو نيوکې، غوښتنې او سيمه ييزې ستونزې په پام کې نيولي او په بودیجه کې يې لږ بدلونونه راوستي دي. ده وويل: "پخوا پر بودیجه باندې په شلو مواردو انتقادونه شوي وو، خو د مالیې وزارت شپارلسو مواردوته مثبت ځواب ويلی دی، همدا رنګه يو لږ نور رغنده بدلونونه په کې هم ليدل کېږي." له دې مخکې د ولسي جرګې غړو، نه يوازې دا چې د ولايتونو ترمنځ يې پراختيايي پروژې متوازنې نه ګڼلې، بلکې د مامورينو، پوځيانو، معلولينو او د شهيدانو د کور نيو د تنخواګانو د زياتوالي خبرې يې هم کولې. سره له دې، چې د هېواد د روان کال بودیجه تصويب شوه، خو د جرګې ځيني غړي اوس هم ورسره موافق نه وو او ويل يې چې له يوې خوا د ولسي جرګې د نويو کاندیدانو د نوم ليکنې لړۍ روانه ده او له بلې خوا د بودیجې خنډول په دولتي چارو او پراختيايي پروژو ناوړه اثرغورځوي، نوښه به دا وي چې نور بحثونه پرې ونه شي. د ازادي راډيو د راپور پر بنسټ، د جرګې ځينو دا هم ويل، چې په تېر کال کې دېرو وزارتونو نه شول کړای، چې د دوی بودیجه پر پلان شويو پروژو ولګوي، خوهغه وزارتونه، چې بودیجه يې پر تاکلي وخت نه ده لګولې، علت يې په يو شمېر سيمو کې ناامني په ګوته کوي.

آيا ربنتيا هم مونږ له هېواد سره ...

ځټ ور واړوي، نو په پايله کې هغه خلک او د هغوی راتلونکي نسلونه په راحت او ارامۍ سره ژوند کوي. وطن يې د نورو له احتياج ځځه خلاصېږي او د هغو هېوادونو په ليکه کې درېږي. چې ټول يې مرستو ته لاس وراوږدوي او نور هېوادونه ورته احتياجېږي. مونږ هم که دغه لار خپله کړو، يو بل ته لاسونه ورکړو او په يوه غږ دا ووايو چې خپل وطن به ودانوو او د نورو له احتياج ځځه به يې بې نيازه کوو. نو لوی او مهربان خدای (ج) به هرو مرو په دې عزم او اراده کې له مونږ مرسته کوي او مونږ به د نړۍ پرمخ په جګ سر او جګو ستر ګوڅوند کووو او په دې توګه به د نړۍ د عزتمنو او قدرتمنو هېوادونو په جمله کې شمېرل کېږو. نړيوال به هم په درنه ستر ګه راته ګوري او مونږ به هم درونده او ابرومند ژوند ولرو، چې دې ته بيا له وطن سره مينه وايي او مونږ دا ادعا کولای شو، چې پر خپل وطن مين يو او که يوازې په خوله وايو، چې له وطن سره مينه لرو او په عمل کې دادعوه پلي نه کړو، بلکې برعکس د وطن پر ورانولو او چور کولو بوخت واوسو، نو بيا دا د دروغو مينه او دروغجنې دعوې دي او الله ج پر دروغجنو لعنت وايي.

در استفاده از لفظ " موفقیت واقعی " در افغانستان محتاط ...

وی خاطرنشان کرد که در شمال غرب پاکستان به ویژه در درهٔ سوات و برخی از مناطق قبایلی نیروهای مسلح پاکستان پیشرفت واقعی نشان داده‌اند، ولی مشخصا این کار بسیار دشوار است. افراطیان در پاکستان از جمله طالبان و متحدان آنها از هر طریق ممکن نظیر اعمال خشونت بی‌هدف و کورکورانه علیه غیر نظامیان بی‌گناه به دنبال مقابله بوده‌اند. جنرال پترایوس خاطرنشان کرد که افراطیان همیشه غیرنظامیان را هدف قرار داده‌اند، همانگونه که بینظیر بوتو، صدراعظم سابق پاکستان و تیم‌های ملی کرکت که به پاکستان سفر می‌کنند و همچنین هزاران هزار غیرنظامی پاکستانی بیگناه و نیروهای امنیتی را هدف قرار داده‌اند. به گفتهٔ پترایوس آنچه که پاکستان را قادر به انجام این پیشرفت قابل توجه در نبرد با افراطیان کرده، عزم و پشتکار آنها و حمایت مردمی از عملیات‌های مستمرشان علیه افراطیان بوده است. قوماندان نیروهای امریکایی در شرق میانه و آسیای میانه اظهار کرد: مردم پاکستان افراطیان را جدی‌ترین تهدید علیه موجودیت کشورشان می‌دانند. پترایوس تصریح کرد که معتقد است، افراطیان خواستار بازگشت چند سده‌یی به عقب به جای اجازه دادن به پاکستان برای پیشرفت به نحوی که اکثریت مردم خواستار آن هستند، است. جنرال پترایوس گفت: اگرچه اختیارات قانونی ریچارد هولبروک، فرستادهٔ امریکا به افغانستان و پاکستان شامل هند نیست، ولی وی به طور منظم با هندی‌ها در حال مشوره بوده است. وی تصریح کرد: مجددا فکر می‌کنم که این مسوولیت در عنوان سمت وی قید نشده، ولی وی به طور مشخص فعالیت‌های زیادی را با همکاری شرکای ما در هند داشته است. پترایوس برعلاوه بین جنگ‌ها در افغانستان و پاکستان تمایز قایل شد و اضافه کرد: در افغانستان امریکا هدایت کننده است.

دختران در بلخ، به مدرسه ...

دختران در ولایت بلخ می خواهند مانند پسران برای شان مدارس دینی و دارالحفاظ ها ایجاد شود، تا آنان بتوانند، نسل جوان افغان را با ارشادات دینی و مذهبی آشنا سازد. به عقیدهٔ آنان، مادران نسبت به پدران در تعلیم و تربیهٔ اطفال در خانواده نقش مهم دارد؛ پس بادرنظرداشت همین اصل آنان باید با مسایل دینی و مذهبی آشنایی داشته تا بتوانند، نسل آینده را بهتر تربیه نمایند.

به افغانستان نه بگویید خانم صدراعظم

افغانستان همچنان در صدر اخبار شبکه های خبری آلمان قرار دارد. آنگلا مرکل همچنان یکه و تنها از استراتیژی که دولتش در افغانستان دنبال کرده، حمایت می‌کند. سال ۲۰۱۰ با سلاخی سربازان آلمانی در افغانستان آغاز شده است و با این وجود، هنوز خانم صدراعظم اعتقاد دارد که حضور در افغانستان و کشتهٔ شدن ده‌ها سرباز بهتر از ترک این کشور و تن دادن به یازدهم سپتمبری دیگر شاید این بار در مونیخ یا برلین است.

آنگلا مرکل، با وجود انتقادات احزاب مخالف و کاهش رغبت مردم این کشور نسبت به جنگ افغانستان، از حضور نیروهای این کشور در افغانستان به عنوان حضوری که برای آن جایگزینی وجود ندارد، حمایت کرد.

مرکل در بیانیه‌یی که در پارلمان این کشور قرائت شد، ضمن حمایت از سربازان این کشور در افغانستان، گفت: پیامدهای خروج سریع نیروهای ما از افغانستان بسیار فاجعه بارتر از پیامدهای حملات ۱۱ سپتمبر ۲۰۰۱ خواهد شد.

نشست پارلمان آلمان در حالی صورت گرفت که آلمان طی دو هفتهٔ گذشته به دنبال حملات نیروهای طالبان، هفت سرباز خود را از دست داده و ۱۳ سرباز این کشور نیز، در این حملات زخمی شدند. مرکل در ابتدای نشست پارلمان کشورش بار دیگر از آنچه که در افغانستان جاری است، تحت عنوان "جنگ" یاد کرد و تاکید کرد که کسی خطرات این جنگ را نادیده نمی‌گیرد.

خانم صدراعظم ضمن حمایت از استراتیژی جدید بین المللی در خصوص افغانستان در ارتباط با واگذاری سریع مسوولیت افغانستان به افغان‌ها، بار دیگر اظهارات پیتر اشتروک، وزیر دفاع سابق در خصوص آنکه آلمان در افغانستان از امنیت خود دفاع می‌کند را تکرار کرد.

رییس حزب دموکرات مسیحی آلمان افزود: ما نمی‌توانیم، انتظار داشته باشیم که سربازان ما قربانی شوند، در حالی که خود فاقد شهامت اقرار و اعتراف به تصامیمی هستیم که آنها را اتخاذ کرده‌ایم. همه سربازانی که در افغانستان مشغول خدمت هستند، از همدردی و حمایت ما برخوردار اند.

خبرگزاری رویترز نیز در این مورد نوشت که مرکل افزود: سربازان ما در ترس و هراس همیشگی زخمی شدن و یا کشته شدن زنده گی می‌کنند. آنان در این ترس زنده گی می‌کنند، تا ما بتوانیم در خانهٔ خود یعنی آلمان، هراس نداشته باشیم. از این رو، ما سپاس، حمایت و تقدیر خود را تقدیم آنان می‌کنیم.

خواستار جدید طالبان از آلمان:

مرکل برای چندمین بار تاکید کرد که آلمان نیز در مواجهه با خطر تروریزم بین‌المللی قرار دارد: این خطرات می‌تواند، از طریق طالبان و یا دزدان دریایی سومالیا ایجاد شود. در هر صورت آلمان آماده است، تا در قالب ماموریت‌های خارجی برای حمایت از امنیت ملت خود و متحدانش وارد عمل شود.

پارلمان آلمان همچنین با سکوت، یاد سربازان کشته شده در افغانستان را گرامی داشت. در این جلسه، گرگور گیسی، رییس فراکسیون سبزها نیز گفت: نمی‌توان از طریق یک جنگ با تروریزم مبارزه کرد. از این طریق جنگ جدیدی ایجاد می‌شود. گیسی با اشاره به بیانیهٔ مرکل گفت: ما بر خلاف شما آماده گی نداریم، تا به مرگ یا زخمی شدن سربازان خود و یا غیرنظامیان راضی شویم.

وی بار دیگر بر درخواست حزب خود جهت خروج هر چه سریعتر از افغانستان تاکید کرد: ما توانستیم به جنگ عراق نیز نه بگوییم.

در همین حال، طالبان نیز بیشتر فشار شان بر خروج عساکر آلمانی از افغانستان است. این چندمین بار است که طالبان با پخش نوار صوتی از طریق رسانه ها، خواستار خروج سربازان آلمانی از افغانستان می شوند. اما اینکه چرا محور فشار طالبان بر آلمان چرخش می کند، باید گفت که مردم آلمان خود را نسبت به دیگر اروپایان، به افغانستان و افغان ها نزدیکتر می دانند. به همین اساس، طالبان دیروز باردیگر، در بیانیه‌یی از آلمان خواستند، تا نظامیان خود را هر چه زودتر از افغانستان خارج کند.

هفته نامهٔ آلمانی "اشپیگل"، با نشر این اعلامیه، خاطر نشان کرد، طالبان افغانستان در بیانیه یی که آن را به همراه تصاویری از حملات نظامی با عنوان "تفسیر هفته" در یک سایت انترنتی منتشر کردند، از مقامات آلمانی خواستند، تا با هدف جلوگیری از مخدوش شدن روابط آلمان و افغانستان، نیروهای آلمانی را هر چه سریعتر از افغانستان خارج کند.

بر اساس این گزارش، در این بیانیه به پیامدهای حملات هوایی سپتمبر گذشتهٔ نظامیان آلمانی به ۲ تانکر نفت که توسط طالبان ربوده شده بود و کشته شدن شماری از غیرنظامیان اشاره شده و آمده است که بهتر است، آلمان زودتر از افغانستان خارج شود، تا اینکه ناچار شود، تاوان سنگین تری بپردازد.

بین‌المللی از این طرح در کنفرانس کابل که اواسط جون برگزار می‌شود و همچنین از واگذاری مسوولیت‌ها که از نومبر همزمان با نشست بعدی ناتو در لیسبون شروع می‌شود، حمایت کنند. این طرح واگذاری به دنبال استراتیژی اصلاح شده‌یی است که رییس جمهور امریکا درماه دسمبر همزمان با صدور دستور فرستادن ۳۰ هزار سرباز کمکی به افغانستان آن را اعلام کرد. براساس این طرح وی جون ۲۰۱۱ را به عنوان تاریخ شروع خروج نیروها از افغانستان اعلام کرد.

هیلری کلنتن، وزیر امور خارجهٔ امریکا در پاسخ به این پرسش که زمانی‌که واشنگتن در حال مستقر کردن این تعداد زیاد از نیروها در افغانستان است، چرا برای دیگر اعضای ناتو تامین این تعداد نیرو اینقدر سخت است؟ گفت: من در حقیقت از واکنش متحدان دلگرم شده ام. ما شکاف نسبتا کوچکی داریم که در تلاش برای پر کردن آن هستیم.

سرنوشت افغانستان در استونیا ...

د کندهار ښوونیز بهیر له ګنبو ستونزو سره مخ دی

د کندهار د پوهنې ریاست مسوولان وایي، چې مرکزي حکومت د دې ولایت ښوونې او روزنې چارو ته لازمه پاملرنه نه کوي، چې له امله يې ښوونیز بهیر تکنی او له ټپلابېلو ستونزو سره مخ دی.

يل پلو د دې ولایت زده کوونکي د نویو ښوونځیو د جوړېدو پر ځای د شته ښوونځیو د پیاوړتیا او معیاري کولو او د ښوونکو د مسلکیتوب غوښتنه کوي.

د کندهار ولایت د پوهنې ریاست سرپرست نجیب الله احمدي وایي، چې د پوهنې وزارت د نورو ولایتونو په پرتله د دې ولایت د ښوونې او روزنې چارو ته لازمه پاملرنه نه کوي.

نوموړي د غويي پر ۴مه وویل، چې د یادې شوې ستونزې تر څنګ په کندهار کې د دادمن امنیت نشتوالی، د مسلکي ښوونکو او درسي کتابونو کمښت، هغه څه دي چې ښوونیز بهیر يې له ستونزو سره مخ کړی دی.

د نوموړي په وینا، په کندهار کې د ۳۷۸ بابه ښوونځیو له ډلې څخه ۱۹۰ ښوونځي فعال، ۱۴۸ ښوونځي غیر فعال او ۴۰ ښوونځي تر رغونې لاندې او یا د تاسیس په درشل کې دي.

د هغه په خبره، ګڼ ترل شوي ښوونځي د کندهار په شپږو ولسوالیو ډنډ، دامان، ژېړی، پنجوایي، ارغنداب او سپین بولدک کې دي، چې لامل يې ناامني او د مسلکي ښوونکو نشتوالی دی.

د پوهنې رییس په ښوونځیو کې د درسي کتابونو نشتوالی هم یوه لویه ستونزه وګڼله او ویې ویل، چې په دې برخه کې يې د روان ښوونیز کال له پیل راهیسې د پوهنې وزارت ته ۲۰ خلې مکتوبونه لېږلي دي.

ده زیاته کړه، چې وزارت په دې وروستیو کې یوازې ۱۶۴ زره ټوکه کتابونه داسې مهال کندهار ته راولېږل، چې تعلیمي کال پای ته په رسېدو دی او د زده کوونکو کلنۍ ازموینې ته یوازې یوه میاشت پاتې ده.

احمدي وایي، چې د کندهار په کچه ۳۵۰۰ ښځینه او نارینه ښوونکي د تدریس چارې پر مخ وړي، چې له دې ډلې څخه یوازې ۴۶۰ تنه لیسانس او مسلکي دي، چې د دې ولایت د زده کوونکو لپاره په هېڅ توګه بسنه نه شي کولی.

نوموړي، په ولسوالیو کې د ټرل شویو ښوونځیو د بېرته پرانیستلو په موخه وړاندیز وکړ، چې د دوولسم ټولګیو فارغانو ته دې د لیسانس ښوونکو په کچه معاش ورکړل شي

۳مخ

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۶۵۴۴۷۵۷ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com